د سپک کتابتون د خپرونو لړۍ

سلسله ء نشرات کتابخانه ء سپک

۳

# د چکریو منار

# منار چکری

کریس .م. دورنیخ



د افغانستان د فرهنگی میراث ساتنی ټولنه

انجمن حفظ میراث فرهنگی افغانستان

۱۳۷۸

ACKU

د سپک کتابتون د خپرونو لړۍ

# د چکړ یومنار

لیکوال

کریس . م. دورنیخ

پښتو ژباړن

پوهنمل امان الله صمیم

PROPERTY OF ARIC Established 1999

PROPERTY OF ACKU 8266

د افغانستان د فرهنګي میراث ساتنې ټولنه

۱۳۸۷

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00008266 8

## ليکوال:

کريس. م. دورنبخ د جرمني د برلين په ښار کې ژوند کوي. په ۱۹۶۹م کال کې يې دستت کوارت له پوهنتون څخه د مهندسي په څانګه کې ماستري اخيستې ده او له هغه وخته راپديخوا يې په چين او جاپان کې کار او مطالعه کړې دي؛ په ۱۹۶۵م کال کې يې په افغانستان کې هم څېړنې کړې وي.

## د کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم : د چکړيو منار

ليکوال : کريس . م. دورنبخ

پښتو ژباړن : پوهنمل امان الله صميم

خپروونکی : د افغانستان د فرهنګی ميراث ساتنې ټولنه (سپک)

اډيټران : نانسی. هچ دوپرې ، صبور الله سياه سنګ او سر محقق زلمی هيوادمل.

د چاپ کال : ۱۳۷۸ هـ ش/ ۱۹۹۹ م.

د چاپ شمير : ۱۰۰۰

د چاپ ځای پيښور

پته : اريک پست بکس نمبر ۱۰۸٤ ، يونيورستي ټاون، پيښور-پاکستان

ای ميل : ic @ brain. net. pk

کمپوزر : عبدالوسيم عزيز

٥٧

# د سپک کتابتون د خپرونو لړۍ

د افغانستان د فرهنګی میراث ساتنې ټولنه (سپک) چې په اسلام- آباد، پېښور او کابل کې ځانګي لري، په ۱۹۹٤م (۱۳۷۳ هـ ش) کال کې جوړه شوه.

د نوموړې ټولنې هدف په افغانستان کې دننه او بهر له مختلفو ادارو، مؤسسو او ځانګړو خلکو سره د اطلاعاتو مبادله، د معلوماتو شریکول او تماسونو ټینګول دي.

د سپک ټولنه د خپلو غړو د ګډو هڅو له لارې بریالۍ شوې ده چې د موزیمونو، لرغونو سیمو، تاریخی آبداتو او لاسی صنایعو مصور کتلاک جوړ کړي.

د سپک د افغاني او نړیوالو غړو لپاره، د ټولنې د فعالیتونو په باب خپرونه خپریږي چې هدف یې د ښو او پراخو اړیکو ساتل او دغو اړیکو ته د عامه اطلاعاتی وسایلو او مبلغینو له لارې وده ورکول دي.

د سپک کتابتون د خپرولو لومړی هدف- د هڅونی د کوششونو د یوې برخې په توګه -د افغاني فرهنګي میراث له مختلفو برخو سره د لوستونکي آشنا کول دی.

ددی لړۍ هره ګنه د یوې تاریخي آبدې، یوې لرغونې سیمې، یو تاریخی اثر یا کله هم نورو اړوندو مطالبو ته چې له پالیسۍ او محافظوی چارو سره اړه لري وقف شوې ده.

د متخصصینو په واسطه لیکل شوې مقالې د تحریر هیئت له خوا انتخابیږي او په پښتو، دري او انګریزي ژبو خپریږي. ددې کارله سرته رسولو څخه هدف دادی چې د مختلفو سطحو لوستونکیو معلوماتو ته وده ورکړل شي.

# فهرست


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| سریزه ........................................ | ۱ |
| د چکړیو منار ........................................ | ۳ |
| تاریخي زمیني ........................................ | ۵ |
| مهندسي قریني ........................................ | ۱۵ |
| لرلیدنه ........................................ | ۲۰ |
| جوړښتي ځرنګوالی ........................................ | ۲۲ |
| د جوړیدو ځرنګوالی ........................................ | ۲۵ |
| انجنیری سمون ........................................ | ۲۷ |
| لرغونتوب ........................................ | ۲۸ |
| سرچینه ........................................ | ۳۰ |

## سريزه

د چکړ يو د منار ړنګيدنه په حقيقت کې د افغانستان د لرغونيو فرهنګي مواريثو لپاره يوه نه جبرانيدونکې ضايعه ګڼله کيږي. دا منار چې په ډير برم او لوړ غرور د غره په سر د ننګ ولاړ و په خپل ذات کې د خپلې لرغونې کورنۍ د تاريخي هويت وروستۍ بيلګه شمير له کيده.

دې ستنې، يا په بله وينا د بودا دې ځلاندې اروانېټې، له اتلسو څخه د زياتو پيړيو په بهير کې بالاخره خپله درنه موازنه له لاسه ورکړه او د ۱۹۳۰م کال په لسيزه کې هغه وخت چې بيايې نړيوال شهرت ترلاسه کړ په ډيره خطرناکه توګه يوې خواته راکوږ شوی ؤ.

د ۱۹۲٤م او د ۷٦-۱۹۷٤م کلونو په بهير کې د منار د بيا جوړونې لپاره هڅې پيل شوې، مګر د ۱۹۸۰م کال په لسيزه کې د ټانک د مرمۍ په لګيدو سره يې يوه برخه زيانمنه شوه چې په پای کې همغې خواته کوږ شو او بيا په همغې خو اونړيد او چپه شو.

ما په خپله لومړی ځل د جرمنی محصلانو له يوې ډلې سره يو ځای په

کابل کې د دوو منارو د موجودیت خبرتیا ترلاسه کړې وه، په ۱۹۶۵م کال کې می افغانستان ته د یوه کاري او څېړنیز سفر لپاره تیاري ونیو. له بلې خوا د بن د پوهنتون استاد کلوس فیسچر "Klaus Fischer" هم د یوه رالېږلي لیک په ترڅ کې ټینګار وکړ چې باید د الرغوني اثر (د چکړیو منار) له نژدې ولیدل شي او مصور اسناد ورڅخه برابر او ترلاسه شي؛ هماغه ؤ چې د همغه کال د اګست او سپتمبر په میاشتو کې د چکړیو منار ته ورغلم چې لومړی هغه د هندسي جوړښت له مخې تر څېړنې لاندې ونیسم.

فکر کوم زه له هغو ګوتو په شمار بهرنیو څخه وم چې خپله نیغ غره ته وروختم او په دې بریالی شوم چې سهار وختی په لمر څرک کې د منار ختیځ لوری عکاسی کړم. د همدغې څېړنې په اساس د منار د ځنډن تاریخ، انجنیری، ډیزاین او د سبک څېړنې سره ښایسته مصور متن لاس ته راغی. دې کار په ۱۹۶۹م کال کې له پوهنتونه څخه د یوه انجنیر په توګه زما د فراغت د ډیپلوم یوه برخه راجوړه کړه.

له څو کلونو راپدیخوا هڅه کوم چې ټولې ختیځې او لویدیځې لرغونې سرچینې، منابع او همدارنګه په دې اړوند نورې لیکنې راټولې کړم چې د چکړیو د منار په باب خپل مونوګراف ولیکم.

د نانسي دوپرې، د SPACH خوځند او هڅاند ټیم د مهربانۍ او لوریښنې له مخې د منار لومړنۍ تصویر ما ته راوسپاره، خوشاله یم چې د SPACH دخپرونې لپاره د چکړیو د منار په باب دا لنډه لیکنه لیکم.

# د چکړیو منار

افغانستان یوه لرغوني او لاینحله معما ، له لاسه ورکړه. د ۱۹۹۸م کال د مارچ د میاشتې په یوه توره شپه کې د چکړیو منار ونړېد. داسې ولویده چې غړیې د یوې چادونې په شان د منار دغره لمنی ته پراته کلی ولړزول او په تپه تیاره کی یې تول له خو بهرا پاڅول. د منار له نړیدو څخه نژدې د وه اوه نی وروسته بریگیته نیویاخر د SPACH د خپرونی مسؤول مدیر دغه الکترونیکی پست راولیږه:

« ډاروونکی خبر درکوم ، د چکړیو منار برباد شو ، هسې چی زموږ حال دلته خراب شو ، ښایی ته به هم هلته ډیر خپه شې. افغانان او نړیوال همدا وایي چې دوی خپل تاریخ له لاسه ورکړ ، ډیر خپه یم چې مې په همغه خپل لرغوني ښایست د چکړ یو منار ونه لید. »

د چکړیو د منار هماغه لومړنی تصویر چې ماولید ، ماته دا پوښتنه راپیدا شوه چې په دې باب کومی لیکنی ته زړه ښه کړم که څنگه؟ ځکه چې ددې منار په برخه کې زما ړومبنی لیکل شوی مونوگراف ښایی په دولتی مرسته په ۱۹۹۹ کال کې چاپ او خپور شي ، نومی له ځانه سره وویل چی له دې نه به بل ښه کار نه وي چې په دې اړوند - د منار په باره کې - یوه مقاله ولیکم.

په ۱۹ پیړی کې دنیا په دې خبره شوه چې دې منار د څلورو د رجو په اندازه د جنوب یعنې د غره خواته ، هغې خواته چې باران ، یخ او باد خوړلی کوږوالی ، موندلی دی.

دا تیایمی لسیزې په بهیر، یا په افغانستان باندې د روسانو د تیرې په دوران کې د کابل د جنوب ختیځو سیمو د ودانیو د ساتنې په وړاندې له بې پروایې او غفلت څخه کار اخیستل شویدی، په ډیرو ودانیو باندې مرمۍ لګیدلې دي.

ددې منار یو لوی او په زړه پورې تصویر چې «افغانستان د شوروی ویتنام» په کتاب کې -وی. تماروف په ۱۹۹۲ کال کې لیکلی او په سانفرانسسکو کې- خپور شویدی لږ تر لږه دوه خطرناک او ژور ګوګونه په ستنه کې ښیي. د نړۍ تاریخ پوهان، لرغون پیژندونکي او مهندسین په دې خیال وو چې د چکړیو منار د ډیرو هغو تاریخی پیښو او حوادثو شاهد دي چې له اسلامه څخه مخکی دورو کې افغانستان زغملی دي. داودانۍ ظاهراً د هغه کوړوالي له امله چې یې موندلې وه خپله موازنه له لاسه ورکړه ولویده او له خاورو سره خاورې شوه.

د چکړیو د منار په نړیدو سره نړیوالو فرهنګي میراثونو خپل یوبې ساری مهندسي شهکار له لاسه ورکړ او ډیر پټ رازونه، هماغسی پټ پاتی شول او له خاورو سره خاورې شول.

د نړیوال جاج له مخې د چکړیو منار یو بودایی اثر ګڼل شوی او هغه د ګندهارا د هنر عظیم شاهکار، د هندي او یونانی د شاذ فرهنګ یو ځانګړی ترکیب ګڼي چې یې د ځوپیړیو لپاره دهند د نیمی وچې په جنوب لویدیځې او د سیمی په هیوادونو کې رواج درلود. اما څنګه هندي او یونانی هنر دارنګه په یوه تاریخی اثر کې ګډ اخښل کیږي؟

# تاريخي زمينې:

د سيمې خلک په ټينګار سره د چکړيو منار (د سکندر ستنه - ستون) بولي. دا خبره د منار عمر له تاريخي پلوه څلور پيړۍ شاته غورځوي. ددې تصور او تاريخي اند د ناسمتوب له دلايلو څخه يو دليل کيداى شي، په افغانستان کې د سکندر د موجوديت مسأله وګڼله شي، په داسې حال کې چې هغه زمانه د منار د دريدو (جوړيدو) له زماني سره کوم ولاړ مناسبت او مطابقت نه لري.

له ميلاده مخکې د ٤٤٥ کال داکتوبر په مياشت کې چې و اورين ژمى لې رومبى راغلى و، د لوى سکندر پوځ له افغانستان څخه تير شو. په هغه وخت کې کابل نه و او مقدونى سکندر د هندوکش له لمنو څخه اوښتى او د خپلې مشهورې سکندر يې بنسټ يې - مخکې له دې نه چې له شماله څخه واوړي- کيښود او د کابل د وادي پاسنى برخې يې تر حاکميت لاندې ونيولې چې په يوناني کې يې پاروپانيزاد "Paropanisadai" بولي .د سکندر يې دوه فارسي اوسيدونکى لومړني حکمرانان وو چې له خيشيارانو څخه د مخه يې حکومت کاوه.

دا نجيب سغدي سړى د سکندر خسرو چې د سيمې خلکو ته ډير ګران او په خلکو ډير منلى ؤ مګر د همدغو غرنيو يوناني الاصلو ملايم استعمار د څو محدودو کلونو لپاره پاتې شو.

د ٣٢٣ ق م کال د جون په ١٤ مه، د سکندر له مړينې سره سم ناڅاپه په بابل کې د هغه د جنرالانو ترمنځ جګړه پيل شوه. د سکندر د نيولې ختيځې سيمې د لوړو مقاماتو ځينى برخې هم جګړې ته راتيل وهل شوې: که څه هم ويل کيږي چې خيشيارانو "Oxyurtes" د ٣١٦ ق م کال تر پايه پورې حکمراني

کوله، سیلیوکوس نیکاتور "Seleukos Nikator" دديادو چي "diadochi" فاتح باید په آسیا کې باختراو پاروپا نیزاد په ۳۰۵ ق م کال کې نیولی وای.

کله چې یې غوښتل له خیبر درې څخه تیر شي او په هند باندې برید وکړي (هماغسی چی ۲۲ کاله ړومبی یې د سکندر د امپراطورۍ په وخت کې دا کار کړی و) خو داخل ډېر ورته ناوخته و. ځکه چې د پنجاب یوناني قلمرو، او د سند دراده غاړه د هند د لومړنۍ ریښتوني امپراطورۍ د بنسټ ایښودونکي چندراگو پتاله خوا نیولي شوي وو.

په ٤٥٤ ق م کال کې موریا سیلو کوس "Maury Seleukos" له چنلراگو پتا سره د سولې تړون لاسلیک کړ، چې د هغه له مخې د هند له تول ملکیته څخه تیر شو. پاروپانیزاد یې د یوناني او سیدونکو د بشپړ تابعیت، د قومي برابرۍ پر اساس دسیمې له اصلي میشته کورنیو سره د متقابله ودونو په وړاندې د ۵۰۰ پیلانو په بدله کې ورکړ، دې کار له هغه سره مرسته وکړه چې د کوچنۍ آسیا په لویدیز کې په خپل رقیب انتي گونوس "Antigonos" باندې په ۳۰۱ ق م کال کې بریالی شي.

له میلادنه مخکې د دریمې پیړۍ په اوږدو کې د معاصر کابل سیمې: غزني، او کندهار د هندي موریس امپراطورۍ برخې وگڼل شوې. دا یو پریکونی بدلون و، ځکه چې په دې وخت کې هینا یانابودیزم په سیمه کې د خپلو ملایمو تاثیراتو په خپرولو پیل وکړ او پوره ۷۰۰ کاله یې دیوه نوي ژوندد لرلید په هیله د خپل موجود یوناني فرهنگ په بډاینه لاس پورې کړ، خو وروسته له دریم او ډېر مشهور امپراطور آشوکا څخه، موریان امپراطور له ده څخه بیل شو.

څولسیزی وړاندې د باختر حاکم لومړی د یو دوتس هم د استقلال او پاچاهي اعلان وکړ، د شاهانو په سلسله کې بدلون رامنځ ته شو، مگر د نوي

حکومت ستنې تینګې شوې. دریم انتی خوس "Antiochos III" دسیلیو- کوس لمسی د باختر د پایتخت (بلخ) له دوه کلنې محاصرې وروسته تصمیم ونیو چې له لومړی شاه ایوتی دیموس "EuthgdemosI" سره تړون لاس لیک کړی چې د هغه له مخې یې د شاه سلطنت په رسمیت وپیژاند. وروسته بیا انتی خوس له خپلو لښکرو سره له هندوکش څخه تیر او له ډیر کمزوري شهزاده موریان سره - چې یې په پاروپانیزاد کې حکومت کاوه- مخامخ شو.

د باختر یونانی شاهانو امپراطوري ته درسیدو خیال له سره نه ایسته. ایوتی دیموس د لومړی دیمتریوس زوی د هند د نیولو لپاره ملاوتړله او د هندوکش له جنوبه څخه یې خوځیدنه پیل کړه او بالاخره بریالی شو او د نیمې پیړی په شاوخوا کې یې پاروپا نیزاد، آراخوسیا (کندهار) او همدارنګه ګندهارا، سند او سند د راده په امتداد سیمی، د پنجاب ځینی برخې یونانی مستعمرو کې ګډې شوې، چې د یونانی شاهانو په وسیله (چې نومونه یې د سپینو زرو په سکو کې ضرب شویدي) اداره کیدې. لاهم دې وضعی د سکندر له دورې سره په پرتله کې ډیر توپیر درلود. هندي فرهنګ په ډیرې لوړې سطحی وده وکړه، چې حتی ریښې یې تر پارو پانیزاده پورې رارسیدلې وې.

یونانیان مجبور شول چې دې کلتور ته سر ټیټ کړي او له خپل فرهنګ سره یې ګډ کړي. د هغو د سکو په یو مخ کې د یونانی ژبې لیک دود په وضاحت سره لیدل کیږي او د سکې په بل مخ کې خروشتي لیکدود "Kharoshti" او د پراکریت "Prakrit" ژبه له ورایه بریښي.

له ۱۹۰ نه تر ۷۰ ق م کلونو پورې هندي یونانی شاهانو په خپل وار د کابل په وادي باندې حکومت کاوه. پنتالیون "Pantaleon" او دهغه کوچنی وروراګاتو کلیس "Agothocles" ښایی لومړنی، مګر هیرمایوس "Hermaios" یقیناً وروستنی یونانی ؤ چې د سکندر یې او ققفاز په قلمرو یې

حکومت کاوه.

د هندو- یونانی له مشهور و او لویو شاهزادگانو څخه یو هیوکراتی دیز "Eucratides" او بل میناندر "Menander" وو چې هیوکراتی دیزله لویدیځ څخه راغی او د باختر د یوناني حکمرانانو حکومت یې رنګ کړ او له میلاده څخه مخکی د ۱۷۱ ق.م کلونو په شاوخوا کې یې ځانته پاچاهی جوړه کړه، کله چې یې په باختر کې پښه ټینګه کړه، په ۱۵۳ ق.م کال کې له هندوکشه څخه راتیر شو او له یونانی پاچا له لومړي میناندر سره ونښت او په دې ترخ کې سخته جګړه پیل شوه، په دې جګړه کې یونانیان له یونانیانو سره تر وروستی سلګی پورې وجنګیدل چې په پای کې ایوکراتایدز بریالی شو او خپل حاکمیت ته یې د سند د راده تر توابعو پورې پراختیا ورکړه او د سکندر یې ښارې د مرکز په حیث غوره کړ او په پنجاب کی یې ډیره وړه سیمه میناندر ته پریښوده.

کله چې ایوکراتایدز هغه کوي چې د هندوکش د شمال او جنوب یونانیان تر خپلې واحدې سلطې لاندې راغونډ او متحد کړي، له دې سره جوخت د باختر په شمالی برخو کې ستړې پراختیاوې رامنځ ته شوې، مثلاً د آمو د سین په شمال کې سارایی قبیلی و هڅولی شوې؛ په لرې ختیځ او همدارنګه دهان - چین د لویدیځو او شمال د سیمو خلکو هم په جګړو لاس پورې کړ. په جګړو کې ماتی خوړلي کسان ټول له خپلو شتمینوسره لویدیځ ته مهاجر شول او د لارې په سر یې په سارایی میشته قبایلو باندې چې ددوی دلارې په سر پراته وو برید وکړ. دا کسان په یونانی متونو کې د توچاروی "Tocharoi" او په چینی ژبه کې د « یو - ژی » "Yue-zhi" په نومونو یاد شویدي او هغه سارایی میشته قبیلې چې دوی له خپلو سیمو څخه د لویدیځ لورته وشړلې، په چین کې د سیک "Sek" او په لویدیځ کې د ساکای "Sakai" په نومونو یادې شوې دي. « آی خانم » چې د یونانی زوړ اولرغونی ښار نوی

نوم دی د آمو په جنوبي غاړو کې په اور وسوځيده او له ميلاده څخه مخکی د ۱٤٥ کال په شاوخوا کې بيخی له خپلو اوسيدونکو څخه تش شو. دې جنګياليو اوزړه ورونيه ويشتونکو سارابی قبيلو - چې په آس ځغلولو کې بيساري وو بايد د طوفان په شان باختر ته پرتې سيمې تر خپل واک لاندې راوستې وای، چې دا وخت ايوکراتيدد هندوکش پرلوريرغل پيل کړ، مګر ناوخته. هغه په ډير بدحالت کی د خپل زوی په لاس ووژل شو، چې په دې توګه د هغه د لارې پرسر کرل شوی حاصلات هم د پرله پسی ماتې خوړلو له امله پوـ پناه شول. لومړي هليو کليس چې په خپلو لاسونو يې خپل پلار وواژه تر ۱۳۰- ق م کال کې چينايی يرغلګرو له جنرال ژانګ -کيان سره د يو - ژي "Yue-zhi" دليدنې لپاره راغلل، هلته کراره کراري وه، ځکه چې نه يونانی لښکرې ليدلې کيدې او نه د هغو د اداري سيستم کوم اثر معلوميده.

ميناندر په جنوب کې بيرته په خپل ټول قملرو باندې حاکميت ټينګ کړ، خپلې پاچاهی ته يې پراختيا ورکړه او د پاچاهي په کرسی کښيناست. د وروستي ځل لپاره (ديوه نسل دنيم عمر په اندازه) يې د هندو يونانی نسبتاً وياړ منه او متحده امپراطوري وچلېده. دا امپراطوری د هغه د پاچا له خوا - چې له موره هندی و -اداره کيده. امپراطوري ته داسی زمينه برابره شوه، چې په هندي او يوناني ګډماحول او سره ښکيل چاپيريال کې رالوی شي. دا چې هغه به بوديزم ته مخ اړولي وي که نه؟ بودايي فلسفی ته، لکه څنګه چې په يوازينی منبع (- ميلنداپنهو يا د ميلندا پوښتنی، چې ميناندر پکې بودايی مسايل د خبرواترو په بڼه -د افلاطون په سبک - له لونګ ناګاسينا، بودايی زبردست عالم سره رامنځ ته کوي) ښودلي دي چې په اړوندو مسايلو ښه پوهيده. ميناندر د ۱۳۰ ق م په خواوشاکې په خپل پوځی قرارګاه کې له دې دنيا نه د تل لپاره سترګی پټې کړې. د هغه مړينه يوه ناڅاپی او تصادفی مړينه وه، ځکه چې

یوازینی زوی یې لاډیر کوچنی او ماشوم ؤ.

آیامیناندر په هغه جګړه کې چې باختري یونانیانو د هندوکش په لاره کې - هغه وخت چې باختر باید مکمل آزاد شوی وای - مړ شوی دی؟ لکه دا چې هغه یه بل بوداؤ، د هغه د جسد ایرې د هغه د قلمرو د ښارونو تر منځ وویشلی شوې او آرامګاه یې د پلوتارک "Plutarch" په قول بودایی عبادتځای ته ورته ده.

سارایی میشته زړه ور و قامونو او قبیلو په ۱۰۰ ق م کې باختر په خپلو منځو کې سره وویشه چې ختیځې برخې یې یو-ژي "Yue-zhi" او لویدیځې برخې یې ساکاته په لاس ورغلې. د هندوکش غاښې د یونانیانو له خوا وترل شو، دا ځکه چې سارایی میشته قهرجنی قبیلی به کله نا کله په جنوب کې را څرګندیدې.

له میناندره څخه مخکې یوناني دوره، ددوو ملوک الطوایفی کورنیو ترمنځ په جګړه کې راښکیل شوه: دا یوتی دیموس کورنۍ چې میناندر ورته منسوب و او د ایوکراتید کورنۍ.

خبره له دوو کورنیو څخه هم ورواوښته په کوچنیو حاکمیتونو وویشل شوه چې د کوچنیو شاهزادګانو له خوا اداره کیدله. په سکندریې او قفقاز کې لومړی ژویلوس "Zoilos I" لیسیاس "Lysias" انتیل سایداز "Antialcidas" فیلکوسینوز "philoxenos" دیومیدیز "Diomedes" او هیرمایوس "Hermaios" لرو چې د هندو یونانی - پاروپانیزاداو وروستیو شاهانو په نامه یادیږي.

د هیرمایوس تر مړینې وروسته د ۷۰ ق م کال په حدودو کې یو-ژی "Yue - zhi" د هندوکش له خوا حمله وکړه او د کابل په وادي کې یې د یونیانو ۱۲۰ کلن حاکمیت ته د پای ټکی کیښود. له دې تحول سره جوخت ساکایی

"Sakai" د یوژی سارایی میشته مخالفینو د باختر جنوبی او شرقی سیمو کې په جګړه لاس پورې کړ، او د هلمند د سین د غاړې د وروستنۍ برخې کې د درنګیانا په کلی کې چې په ساکاستین (نوی سیستان) یې شهرت درلود میشته شول. له همدغه ځایه د ساکای لښکرو د سند دوادې په میشته یونانیانو باندې برید وکړ او په دې بریالۍ شوې چې تکسیلا تر خپل تصرف لاندې راولي. که څه هم دوی تر یوې لنډې مودې پورې شاته و تمبول شول، مګر د ۵۵ ق م کال په شاوخوا کې د ساکای پاچا، لومړی ازیس "Azes I" د پنجاب په ډیرو برخو حاکم شو. یوازې د دې ایالت په ختیځه برخه کې د میلادې سنې د لسیزو تر پیله پورې د یونانیانو یو څه حاکمیت لیدل کیده. ترسلو نورو کلونو پورې یوژې نظامی حکمرانانو په پارو پانیزاد باندې خپل حاکمیت وساته چې شاهی ماڼۍ یې د باختر مرکز بلخ کې پاتې ده.

ډیره په زړه پورې ده چې یوه چینایی منبع (د بان ګواثر) لومړی ځل د کابل نوم یادوي. د پنځو نویو ښارونو په فهرست کې چې د یوژی نظامی رهبرانو له خوا اداره کیدل پنځم ښار یې په جنرال ګا وفو پورې مربوط دی، چې همدغه ښاریې د ګا وفو د حکومت پایتخت هم ګڼل شویدی. «تول پوهان په دې عقیده دي چې هماغه ګا وفو، کابل دی» بیا وروسته وینو چې رومبنی یونانی حکومت پاروپانیزاد د یوژې تر اداري لاندې د کابلستان په نامه یاد شوی دی چې اداري مرکز یې له سکندریې او ققفازه څخه د کابل ترنوي ښاره پورې را غځیده.

په کلیاتوکی نوو مشرانو او وا ک ته رسیدلو واکمنانو په احتیاط هڅه کوله هغه فرهنګی میراثونه چې ددوی له یونانی نیکه ګانو څخه ورته پاتی دي امانت وساتی.

خپله یوژی "Yue - zhi" له تحصیل او زده کړې سره زیاته مینه

درلوده،او دوی د خپلو راتلونکو نسلونو لپاره د خدمت او کار پوره وخت درلود، چې مستقبل ته کار وکړي.

دوی د خپل یونانی وروستنی پاچاهیر مایوس سکې چې هندو- یونانی لیکنې یې درلودې او زیاته موده په امن ساتلی شوې وې، بیا په کارواچولې؛ داد دې مانا لري چې سارا میشته پنهورمیړي هم کولی شی متمدن او د هندو- یونان د فرهنګ اصلی وارثین شي.

داسی لې شانتې تاریخی حقایق نور هم ددې تیارې پیړۍ په هکله روښانه شویدي، څنګه چې د هغو په نامه سکی ندی ضرب شوي، نو ځکه د کابل یوژی حکمرانانو هیڅ یوه هم خپل نوم ندی پرې ایښی.

د یوژی د یوې بلی قبیلی څخه یو تن په میلادي لومړی پیړۍ کې ځانګړی شهرت ترلاسه کړ، همدغه یوازینی چینایی منبع، ددې طایفی نوم ګیوشانګ "Gui-Shuang" او د حکمران نوم یې قیو جیو کیو -Qiu - jui" "que راوړی دی. منبع زیاتوي چې پایتخت یې د کابل په نسبت چین ته لنډو. د چینایی نومونو ژباړه په بهرنیو ژبو ډیره عجیبه ده، مګر جنرال یوژی د کوجولا کدفیزس "Kujula Kadphises" په نامه شهرت موندلی دی چې دواړه نومونه له سکو اوکتیبو څخه اخیستل شویدي. ویل کیږي چې کوجولا، په څلورو قبیلو برید وکړ او د هغو تر ایل کولو وروسته یې د خپل سلطنت چلښت ته دوام ورکړ. د نوي سلطنت لپاره یې د خپلې قبیلی نوم خوښ کړ او د کوشانی امپراطوری په نامه یې خپل سلطنت و نوماوه. د هان انالس په هکله شواهد او مدارک معلومات ورکوي چې دا پیښې تر ۲۵ میلادی کال وروسته رامنځ ته شوې خوهسی چې فان یه "Fan yeh" په خپلو لنډو خبروکې یادونه کوې ساده نه وه، ځکه چې ساکای پاچا لوی اشکانی سورین "Suren" ګاندو فارس په ساکاستین کې په کوجولا باندی لومړی د کابل په وادي کې او بیا په پنجاب

برید وکړ. هغه سیمې چې ساکای شاهانو د هند په شمال غرب کې له لاسه ورکړې وې بیرته ونیوې او کوجولا یې په ځټ خپلې سیمې ته وځغلاوه. په ٦٤ م کای یا په بله وینا د سورین Suren ترمرگ وروسته کوجولا، په دې بریالی شو چې خپل لوړتیا غوښتونکی پروگرام د یوژی د ټول قلمرو د یو موټی کولو په منظور تریوې واحدې اداري لاندې راولي. دلته دی چې کابل او تکسیلا بیرته له اشکانیانو څخه نیسی، پرمختگ کوي او دباختر مرکزی برخه چې په چینایی کې پوتیاو "Pu-tiao" نومیده، نیسی. هلته د یو-ژی "Yue- zhi" د سلسلی وروستی پاچا، چې د بیلا بیلو چینایی منابعو په قول یې ترمېلاده مخکی دوهم کاله پورې په باختر کې حکومت چلاوه لیرې کړ. دا وخت کوجولا د ژوند او د قدرت په وروستیو شپو ورځو کې شهنشاهی تاج په سر کیښود، له اتیا کلونو څخه یې زیات عمر وکړ اوله ۸۰ م کال څخه لږ وړمبی مړ شو. فان یه لیکی: «دده زوی یان گاوژن، دی پدې بریالی کړ چې پاچاهی ته ورسیږي، دهٔ هند فتح کړ. بیایې د هند د اداري لپاره یو جنرال و ټاکه، له دې وروسته بیا نیکمرغي، آرامي او سوکالي د یوژي قلمروته مخه کوي.»

دریاتک د ډبرې ترکشف (د ۱۹۹۷ کال کې خپره شوې) وروسته پوهیږو چې یان گاوژن هسی چې کلونه خیال کیده، و یماکدفیزس نه، بلکه پلار یې کوشانا ویماتاکتو ؤ چې ځینو یې نومه شاه بللی اوځینی حتی د هغه په موجودیت باندې شکمن دي. یماتاکتو باید چې هند بیا نیولی وای ځکه چې پلاریې کوجولا کدفیزس په خپل ټول قوت سره په باختر کې د یوژی د تاج او تخت د تسخیر او نیولو تصمیم درلود. خو د هغو پیښو په وړاندې چې پر هند تیریدې بی خبره و. د کوشانیانو وروستنی پاچا، هغه وخت په پنجاب کې ووژل شو، چې کوشاناس په هند کی د ساکای ټول قلمرو ځانته ایل کړ مگریماتاکتو هم د باختر له خوانه پریشانه ؤ، ده له همغه ځایه څخه له هان چینا سره د دوستی

اړیکې تینګې کړې او په ۸۸ م کال د پادشاهی تاج له په سر کولو نه لس کاله وروسته یې یو هیئت د جنت زوی "Son of Heaven" په نامه ولیږه او د شاهزادګانو له یوه شاهزاده سره یې د یوه تړون د لاسلیک غوښتنه وکړه.

خو د چین د یوه جنرال بان ګو له خوایې غوښتنه ونه منله شوه او رد شوه. وروریې یان ګو یمای په ۹۰ م کال کې یولوی لښکر ورولیږه، بان ګو وتښتیده چې د هغه د تیښتې له امله یې ستړي سرتیري د تاکلاماکان "Taklamakan" په سارا کې له سخت ناتار سره مخامخ شول، ښایی بان ګو، وروسته له دې پیښې یا متقاعد، یا خو د زړښت په اثر مړ شوی وي.

کدفیزس له خپل زوی دوهم ویما سره د کوشانیانو د سلطنت زرینه دوره پیل کړه، د چین اوروم په امپراطوریو کې یې دریم قوت او ځواک جوړ کړ. څلور آسیایی لارې، چې د ترانزیت لاره یې په نړۍ کې د زینتي او ښایسته کالیو لپاره ډیره ښه پیلامه شوه. دوهم ویما لومړنی کوشانی و چې تر "Aurei" وروسته یې زرینه سکه وړاندی کړه، هماغسې چې د کوجولا کدفیزس پاچامسي سکې د بودا د هراماتیدا د قانون په اساس وړاندی کوله. د لومړي ویمامسی سکو د هغه تصویر د هغه له نورانی سر، سره د ایرانی میترا یا الهی په ښه څرګند او ه، مګر د کد فیزس طلایی سکو کې د هندله الهی «شیوا» څخه زیات کار اخیستل شوی و.

کوشانیانو یو بل ته د باور په اصل زیاته عقیده درلوده او داهسې هڅه وه چې د مذاهبو په سعادت کې د درناوي وړ ګنل کیده یعنی مذهبی یووالی ته پکی په درنه سترګه کتل کیدل.

پانګه، ځواک او . . . سیمه کې د کدفیزس د لمسي لومړي کنشیکا په وخت کې چې د کوشانیانو څلورم پاچا ؤ د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسیده اونومړي پاچا د دوهمې میلادي پیړی په پیل کې کله چې یې د قدرت واګې په

لاس کې ونیوې په ځینو پروژو لاس پورې کړ، لکه په هندوکش کې د سرخ کوتل او پیښور (پورشا پوره) ته نژدې د عبادتځایونو جوړونه.

د ځینو کورنیو مدارکو له مخې د دوهم ویما د حکومت په وخت کې د کوشانیانو د نوی ولایتی مرکز کابل (گا وفو، کابورا، باسیلیون) اهمیت د هغو دودانیو یاساختمانونو په وړاندې چې بودایان پکې اوسیدل، زیاتوالی وموند، چې یوله هغو مهمو او د تاریخی ارزښت لرونکو ودانیو څخه یې دغه تاریخی منار دی چې نن د «چکری» یا چکړیو د منار په نامه یادیږي.

## مهندسي قرینې:

د چکړیو منار یوله هغو سره ورته دوو تاریخی یادگارونو څخه دی چې د بودایی فرهنگ د میراث په توگه کابل ته نژدې پروت دی. په ۱۸۳۳ م کال کې ددې ورانو شوو آثارو په اړوند پلټنې پیل شوې چې د ۱۸۳٤ کال د جولای په میاشت کې د بنگال د آسیایی څیړنې په خپرونه کی یې لومړی ځل یادونی وشوې (دا خپرونه د "J. Prinseps" له خوا په کلکته کې چاپیده).

«د غرونو په یوه لوی گوړ کې یوه یونانی ستنه پرته ده چې د سرخ منار په نامه یادیږي. او بل یونانی منار په یوې لوړې څوکې باندې ښکاري».

ج، گ، جراند انگلیسی جراح اولیکوال د شرقی هند په یوې کمپنۍ کی کار کاوه، په همغو نژدې وختونو کې د بخارا (د آموسین شمال ته پروت ښار) له یټ سفره څخه چې لیوت . ۱ . برنس هم ورسره ملگری ؤ بیرته راگرځیدلی و. په ۱۹ مه پیړۍ کې د افغانستان مطالعات او څیړنې د نظامی استثمار فرعی هڅه وه، جراند د ۱۸۳۳ م کال په وروستیو کې دوه نور اروپائیان هم په کابل کې لیدلی وو. یو چارلزمیسن د جیمزلویس په مستعار نامه چې په ۱۸۲٦ م کال

کې يې په هند کې خپله پوځي قطعه پرې ايښې او را تښتيدلی و او په کابل کې اوسيده. بل داکتر مارتين هانيگ برگر چې د هند دوروستی مهاراجا رنجيت سنگهـ ځانگړی طبيب ؤ او پلرنی ټاټوبی ترانسلوايناته د تگ په هوډ کی ښکاريده.

د چکړيو د منار د تاريخي او ځنډنې طراحی په وړاندې د ميسن منتباريو او هانيگ برگر هم د بودايی گنبدو په اړوند ارزښتمن معلومات افغانستان ته ډالۍ کړل.

هغه دا معلومات له يوه فرانسه يی شواليه څخه چې چيويلير. الف. وينتورا نوميده ترلاسه کړی وو. دا جنرال يو وخت په واټر لوکې د ناپليون په گته جنگيده، چې بيا وروسته درنجيت سنگهـ په خدمت کې و. وينتورا په ۱۸۳۰م کال کې د پنجاب د سترې بودايی گومبتې (گنبد) په هکله په زړه پورې برياليتوب ترلاسه کړ. هغه گومبته چې م. الفنستن په پيښور کې د سياسی هيئت د متعارفو ليدنو کتنو په ترڅ کې په ۹-۱۹۰۸ کشف کړې وه.

په دې توگه ها نيگ برگر په افغانستان کې د لرغون پيژندنې څيړنې پيل کړې، او بيايی ميسن په دې کارو پوهاوه هغه وکولای شول تر ۱۸۳۸ کاله پورې- تر هغه وخته چې دا وطن پريږدي خپلو تحقيقاتو ته ادامه ورکړي دا ځکه چې دی، دا وخت د سياسی استازي په توگه ټاکل شوی ؤ.

ها نيگ برگر او ميسن دواړو د تحقيق او څيړنو په بهير کې وکولای شول چې کمريو ته نژدې سيمو، شيوه کيو، او د گلدرې په وادي کې له بودايی عباد تځايونو څخه کوشاني اورومي طلايي سکې پيدا کړي چې په دې ډول دوی دواړو ددغو ودانيو او منارونو د تاريخ او لرغونتوب په اړوند گټور او لازم اسناد، مدارک او شواهد لاسته راوړل او د چکړيو د منار تا دا و (تهداب) هم په همدغه منظور وشکول شو.

په‌لومړيو او بيا په‌دا راوروسته‌وختونو کې ډيرو سيلانيانو د راتيتې ستنې په‌ليدو - چې سورمنار - سرخ منار نوميږي - بسنه کړې او پورتنۍ ستنې ته‌چې تور منار - سياه منار نوميده ندي ورغلي. ميسن انګلستان ته‌له ورتګه‌وروسته‌خپله‌لومړنۍ کره‌ليکنه‌وړاندې کړه‌چې په ۱۸٤۱ کال کې خپره شوه.

« د شيوه کيو په‌برجونو "topes" کې يو برج چې له‌ډيرو ځخه‌جوړ شويدی، سرخ منار نوميږي او نورو برجونو ته‌ورته عمر لري. د غره په‌پاسنيو برخو همدارنګه‌د شيوه کيو په‌برجونو کې يوه بله‌ستنه‌هم ليدله کيږي چې هغې ته‌د چکړيو منار وايي. دا منار د جګوالي او همدارنګه د جوړښت له مخې ډير ښه دی، په‌لومړي کتنه کې معمولاً د سرخ منار اصلي ښه‌ښکاري مګر کله‌چې سړی وړاندې ورشي او ځير شي معلوميږي چې د منار په‌پاسنيو برخو کې رنګي، ماتې ښکاري مانادا چې زمانې لاس ندی پرې نيولی.

دوه سرتيري درپوتونو په ترڅ کې زياتوي : الف. برنس "A. Burnes" لاندينۍ ستون په ۱۸۳۸ کال کې ليدلی، هغه په‌خپل کتاب کې چې کابل (Cabool) نوميږي ، د چکړيو د منار په‌هکله‌ځرګنده يادونه‌کوي، ليکي: « داودانۍ‌منار ، نه‌بلکه‌ځلې دی د يادګار په‌ښه». و. يبري له‌هغو ۱۲۲ کسيزو بريتانوي پوځيانو ځخه‌نيکمرغ پوځی دی (چې د ۱۸٤۲ کال د جنوري په‌مياشت کې په‌افغانستان کې قتل عام شول) چې د وزير اکبر خان په زندان کې بندي و او د ۱۸٤۲ کال د مې په‌مياشت کې د چکړيو د منار له‌لارې تير شوی دی. ددې نيکمرغ سرتيري په‌يادښتونو کې لولو: « مخامخ مو د کابل خواته لاره‌ونيوه‌چې تقريباً په‌تولّه لاره کې دالويه‌ستنه‌موږ ته ښکاريده... نيم ساعت مودمه‌وکړه، بيا مو خپله‌لاره‌ونيوله، ورپسې په لوړوتپو او غونډيو واوښتو، د سکندر ترستنې پورې د لار -د دوه‌ميلو د

فاصلې په اندازه-شاوخوا لرغونې شرقي ودانۍ ولاړې وې، څو چې دې لرغوني او تاریخي سیمې ته را ورسیدو، د لارې پر سر یوې بلې یوناني ستنې مو د غونډیو کینې خوا ته سترگې ورکړې کړې. »

و. اندرسن د افغانستان په جگړه کې (۱۸٤۲ - ۱۸۳۸م) یو بل گډون کوونکی و چې د یوه بندي په توگه پیاده د چکړیو د منار له څنگه تیرشویدی، دده یادښتونه نوي لاس ته راغلي دي. دا یادښتونه د هند دولتي کتابخانې اخیستي دي. د چکړیو د منار په هکله څو کلمې او وړه طرحه په هغو کې چاپ شوي دي.

د چکړیو د منار لومړنی زوړ او ډبرین چاپ هغه رسامی ده چې په فني مهارت په ۱۸٤۱م کال دلیوتنی ننت سترت "Sturt" په واسطه برابره شویده. تصویر یې د «جلال آباد ساتنه» د کتاب په سریزه کې چې سر را برت سیل لیکلې ده، راغلی دی. سترت د هغه جنرال زوم و چې د خورد کابل د عام قتل په بهیر کې یې ونشو کړی روغ ووزی. د هغه د طراحیو یو کتاب په دا راوروسته وختو کی لاس ته راغی.

میرمن سیل په ۱۸٤٦م کال کې داسې لیکی:

«د سکندر ستنه (سرلیک): ډیره هیله منه وم چې دا منار وگورم. تل به مې کابل ته نژدې له سیاه سنگه څخه د سارا یې دوربین په واسطه دې ستنې ته کتل او کله به مې له ځینو ښاغلو څخه هم هیله کوله چې راشي او له همدې دوربینه څخه دا لرغونی او تاریخي ځلې وگوري. که به ځینو ښاغلو وغوښتل چې ورشي دا منار له نژدې څخه وگوري نو له یوه سپین ږیري قومي مشر څخه به یې اجازه وغوښته، بیا به ورغلل او هغو به هم بیا میلمنو ته پسه حلال کړ او دوی ته به یې میلمستیا جوړه کړه. کله چې زندانیان له زاودک "Zaudek" څخه کابل ته نژدې راولیږدول شول، موږ ته د کابل له غابښي څخه تیریدل گران وو،

نو ځکه مو د منار لاره ښه وګڼله دا لاره هم سخته او کړ لیچنه وه، دستنې ځینې پاسنۍ برخې ورانې، او تا داو (تهداب) یې هم کمزوری شوی ؤ او د زلزلې په اثر یې خپله موازنه له لاسه ورکړې وه، احتمال لري ژوکاله وروسته ونړېږي. »

ددې منار لومړنی پیژندل شوی تصویر د . ج . بورک "J.Burke" اثر دی چې ښایي د انګلیسي اشغالګرو له ملکي افرادو څخه به و. په غالب ګمان دا عکس د (۱۸۸۰) کال دسپتمبر په میاشت کې له هغې پلې لارې اخیستل شوی، چې په سلګونو انګلیسي سرتیرو او ګورکا - عسکرو د جنرال ستوارت او رابرتس لپاره د ډیرو او پرښو ترمنځ جوړوله ځکه هغوی غوښتل چې دا غرني غاښي وګوري او منار ترڅېرنې لاندې ونیسي.

د ۱۸۸۱ م کال د جنوری د پیښو د اوه شپیتم یادښت په سند کې راغلي دي:

« د چکړیو منار د خوندو "Khundo" پرغونډیو چې د کابل جنوبي لورته غځیدلې موقعیت لري. منار د غره په لوړه څوکه نه دی، بلکه راټیټ دی، نو ځکه د کابل له ځینو معینو برخو څخه لیدل کیږي، او دغاښي داسی یوه مسیر ته پروت دی چې د کابل له اواریو نه د چکړي وادي ته؛ له هغه ځایه سیخ د غلجو کلي او په پای کې خورد کابل ته رسیږي. ګرځندویان له میاشتو میاشتو څخه په دې هیله وو چې غونډۍ ته ور پورته شي. زیاتې آوازې وې، مور ته د خپل کار له سیمې یعنی له شیر پوره څخه منار ښکاریده قسمت به همداسې و چې هیڅ وک دې هیڅکله ونشي کړای چې دا دراز غوټه خلاصه کړي.

په آس باندې تر یو مېل سفر وروسته داسې ځای ته راورسیدو چې لوړې رامخته کیدې. کښتنۍ برخې یې ډیرې لنډې ښکاریدې، هسې چې تا به ویل په لسو دقیقو کې رسیږو، مګر نیم ساعت مو په تیږو کې مزل وکړ، لوړو برخو ته

بې ختل ګران وو، آس والا ووغوښتنه وکړه چې باید پلې شو، منار همالته ؤ. له پلنو تیږو، شګو او سمنتو څخه ښایی د ۱۱ فټه په جګوالی سره، لکه یوه لویه شمع ښکاریده.

ځینې پوهان د منار د معمارۍ سبک بودایي او عمر یې له دوو څخه تر دروز روکالو پورې ګني.»

## لرلیدنه:

د چکړیو منار د شاخ برنته په ډیره ورانډې برخه کې د کابل د جنوب شرق لوري په ۱٤ کیلو مترۍ کې ولاړ ؤ. د کابل پلنې او هوارې پرتې برخې ددې تاریخي ودانۍ د شمال له خوانه د (۶۰۰) مترو په اندازه پیل، تر کوهدامنه او بیا په کوهستان باندې ختمیږي.

د هندوکش واورینې څوکې په خپلو زړه وړونکو طبیعي مناظرو سره دلیدونکو پام وراړاوه.

د چکړیو د منار جنوب خواته بله لویدلې او پراخه سیمه غځیدلې ده چې په یوې بلې غرنۍ لوړې باندې چې څوکه یې ۳۰۰۰ مترو ته رسیږي، پای ته رسیږي. په همدغو برخو کې وران بودایي آثار کشف شوي او داسې ښکاري چې داستنه به یو وخت د ورکوشویو عبادتځایونو یوه برخه وه، هماغسې چې بریتانوي بندیانو انګیرلې چې د چکړیو منار تر څو سدیو پورې د پخواني کابل (بګرام- اوسني بګرامي) خورد کابل او ننګرهار ترمنځ د ترښت کړۍ او وسیله وه، چې له همدغې لارې لارویان او کاروانونه تګ راتګ وکړي.

د چکړیو د منار اوسنی نوم په «ګرځنده برج» زیات تعبیر شویدی چې د سانسکریت له ککره "Cakra" څخه د څرخ په ما نا اخیستل شویدی چې بودا په

خپلو ورمونو (نصایحو) کې د دهرما "The dharma" په نامه څرخولې ؤ.
ددې ترجمې زوړ متن د ۱۹۲۵م کال په دسمبر کې د آسیا "Asia" په خپرونه کې راغلی، هلته چې الف. ل، اولسن لیکي: هغه تاریخي آبده چې د خپل موقعیت له پلوه د کابل په ۱٤ کیلو مترۍ کې شهرت لري، د چکړیو (چکری) منار یا گرځنده - متحرکه -ستنه ده. دا د سلو فوټو په اندازه جگه آبده ښایي د بودا د قانون یو پوښلی (پټ) مفهوم یا به د بوداد مرگ، زوکړې او بیا ژوندي کیدو ښکارنده نخښه وه.

افغانستان ته د اسلام ددین په راتگ سره د بودیزم تبلیغاتو ته دپای ټکی کیښودل شو، له هغه وروسته د سانسکریت د نومونو زاړه مفاهیم هم له خاطرو څخه ووتل.

نن په افغانستان کې دا ډول هره ودانۍ د هغې د تاریخي څرنگوالي او جغرافیایي موقعیت د څرگندونې په نامه یادیږي، لکه څنگه چې و. بال د ۱۹۸٤ کال یوه خپرونه کې چې "Studia Iranica I" نومیږې اشاره کوي: ددې ستنې اصلي او سیمه ییز نوم د چکړیو (چکری) منار دی، نه "Chakhri" منار.

د کابل جنوب ختیځې خواته پرتې ستنې په وروستیو پیړیو کې د «سرخ-منار، سیاه منار» او یاد «سره برج او تور برج» په نومونو یادې شویدي. د چکړیو منار زما له نظره په حقیقت کې د چکړیو د سیاه منار یاد چکړیو د برج سیاه یا تور برج لنډه بڼه ده. دا نوم په هغې وچې وادي "Khwar" پورې تړلی دی چې د منار جنوب لورته غځیدلی او د چکري "Cakari" یا "Cakarai" په نامه یادیږي.

PROPERTY OF ACKU 8266

## جوړښتي ځرنګوالی:

د چکړیو دواړه منارې سره ورته او ګډ ځانګړي جوړښتونه او تړښتونه لري. دواړه له درو برخو څخه جوړ شوي دي، مستطیلي بنې، استوانه ډوله ونې، او د ونی تاج چې داسې بنه نه پیژندل کیږي. سرخ منار چې ډیر لنډ او د غره په مخ په ځوړه خواکې جوړ شوی و خپله پاسنۍ برخه ډیره پخوا له لاسه ورکړې وه او خپله بیا د ۱۹٦۵ م کال په پسرلي کې له پښو ولویده او له خاورو سره خاورې شو. د همغه ۱۹٦۵ م کال په اوړي کې زما محاسبې ماته د چکرۍ د منار لوړوالی ۲۷ متره او ۸۸ نیم فوټه راوښود، له دې نه بلې دقیقې سروې- چې د افغانستان د افغان لرغون پیژندنې انستیتوت او افغانستان- بریتانیا د مطالعاتو د انستیتوت له خوا د ٦- ۱۹۷۵ کلونو په موده کې وشوې- د همغه جګوالی د زمکې ځوړتیا ته په پاملرنې سره ٦. ۲٦ متره وښووده.

دا چې د همغه د شمالي وادي ځینې باندنۍ برخې لږې پاتې وې نو ګرانه وه چې ټولې برخې یې بیا له سره جوړې شي. په پوره باور سره ویلی شو چې جوړښت یې مکعبي بنه درلوده، مساحت یې "C.8x 8m "26.2ft.sq دی، او ستنه له دروخواو څخه هسې سولیدلې او خوړل شوې وه چې د ړنګیدو امکان یې یقیناً ډیر ورلنډ کړی و.

په ۱۹۲۳ م کال کې د منار د بیا جوړونې لپاره لومړنۍ هڅې پیل شوې، ځرنګه چې کار د خاصو فني کارکوونکیو په لاس شروع نه شو نو چنداني ارزښتمنه نتیجه یې ورنه کړه.

د ۱۹۷٤-۱۹۷٦ م کلونو د بیا جوړونې کار چې د افغاني- بریتانیایي مؤسساتو له خوا پیل شوی ؤ مثبته نتیجه ورکړه. دوی وکولای

شول چې یوه مخروطي پخه او ډبرینه ستنه او یوه کړۍ وزمه مرستندوی پوښلی تیر وریاندې جوړ کړي چې په دې توګه د منار باندینی بڼې ته یې تغییر ورکړ او په دې توګه د یوناني ستنې یعنې منار وروستۍ نښې نښانې له منځه لاړې، بیا هم د بیا جوړونې په منظور، لکه څنګه چې ښایي لازمې هڅې ونشوې. د یادونې وړده چې مورږ هیڅکله هم نشو کولای چې د بودایي معماری بیا جوړونه په خپلې اصلي بڼې سره سر ته ورسوو هغه هم په یوې لیرې لویدلی سیمه کې، لکه د چکړیو منار.

د دواړو منارو بنسټ د ګندهارا د باختري - یوناني له هنري او انجنیري سبک او جوړښتو نو سره ورته والی او شباهت لاره، لکه د آی خانم او سرخ کوتل ودانی. په ستنه کې په ډیر مشکل سره د تور برج یا برج سیاه اثر او نمونې لیدلې کیږي، مګر سرخ منار بیا له دې نه، ښه ساتل شویدی.

تور منار (سیاه منار) ۱۲ متره لوړوالی او محیط یې په ۱۹٦۵م کال کې ۸، ۱۸ متره اندازه شویدی. قطریې د تاداو په برخه کې ۷٦، ۵ او جګوالی یې ۵، ٤ متره ویل شویدی.

د چکړی د منار ونې (بدنی) له ٤ درجونه لږ زیات د شمال لویدیځ خواته کوږوالی ښود. او په دې توګه د منار پورتنۍ برخه د ۲ مترو په اندازه له اصلي محور څخه کږه شوې وه.

د منار د جنوبي لوري باندینۍ برخی د باد، باران او یخنۍ په وړاندې سولیدلی او تاویې پیدا کړی ؤ مګر منځنۍ (داخلی) برخه یې چې د ودانی جوړولو له موادو څخه پوره ډکه وه تر یوې اندازې پورې روغه پاتې وه. زما شخصي خیال دی چې سیاه منار په حقیقت کې داسې جوړ شوی دی چې د منار د جوړولو او درولو په وخت کې یې لوبی ډبرینې توټې (کتلې) تر یوې اندازې پورې له کنترول څخه وتې دي او سرخ منار بیا دا نیمګړتیا نه راښیي.

د کابل د منارو ترټولو مهمه برخه د هغه ځګوالی دی، چې د یوه خاص او پیچلي ترکیب له مخې له بدنې سره برابر تناسب لري.

پ. برون د هندي انجنیري کتاب (۱۹٤۲م) له قوله د منارو کوزنۍ برخې د آشوکا د ډبرینو ستنو نمسۍ بولي، یا په بله وینا داستنۍ (منارونه - ځلي) د هندي دریم امپراطور آشوکا د ډبرینو ستنو په سبک جوړیدې چې دواړه ځلې کولی شي د هخامنشیانو او پرسي پولس "Peres polis" د شاهانه ماڼیو نخښې راوښيي.

د منارو پاسنۍ پالوړي نیمه کروي برخې د هندي سبک په نسبت د مدیترانې سبک ته زیات ورته والی او شباهت لري. دا بنې په ډیرو مجسمو کې لیدلې کیږي او تر اوسه پورې لا دا ټکي د توجه وړدي چې بوداییانو هم د زردشتیانو په څیر د اورنمانځنه کوله.

ح. انغولیت "H. Ingholt" په ۱۹۵۷م کې «په پاکستان کې د ګندهارا هنر» تر څیړنې وروسته دا نتیجه ترلاسه کوي چې: د اور دانمانځنځای (آتشکده) . . . ښایي د هغه وخت د ګندهارا د څو انديز "Syncretism" وړانګین دوران څرګندویه وي.

ساساني سکې د آهورا مزدا «زردشتي آلهه» د دعا او عباد تځایونو څرګندوی وې. دلته په ښه توګه معلومیږي چې بودا د خپلو لارویانو په وړاندې د اهورامزدا په شان قوي او ځواکمن ؤ، چې دا وداني د بودا او بوداته د ډیرې عقیدې شاهدې دي. دا چې د کابل مینارو په خپل وخت کې تاجونه لرل سم او په ځای خبره ده کوم شک او تردید پکی نه لیدل کیږي.

د چکړیو د منار په پورتنۍ برخه کې یوازې د خښتو ټوټې پاتې دي، د تورمنار یا سیاه منار تاریخي ځګوالی له نژدې څخه د تحقیق او څیړنې لپاره زمینه ییخی تنګه کړیده.

یوازې د ځلي په لاندینی برخه کې د تحقیق ځینی امکانات ترلاسه کیدای شي. د ددې ستنو د غاښ لرونکو گرځنده څرخونو په اړوند، پوهان په دې باور دي چې ښایي یو وخت به دبودا د قانون نخښې وې. که څه هم نومونه سړي ته منطقی ښکاري مگر غولوونکي اشتقاقی وجوهات پکی لیدل کیږي. زه د یوه انجنیر په حیث په دې باوریم چې گردشیان (د پلن والی او گردبرابر جگوالی له مخې) په دې تاریخی تاج لرونکو ستنو باندې برابر نه راځی.

په ٦ - ۱۹۷۵ کلونو کې د منار د بیا جوړونې لپاره دیوه وسپنیز پایې په مرسته لومړی ځل دڅېړنی زمینه برابره شوه، نو له همدې امکاناتو څخه په استفادې سره له مناره څخه د عکس اخیستنی او د منار له جزئیاتو څخه د سروې په زړه پورې امکان لاس ته راغی، لکه څنگه چې ج. ک. راو په ۱۹۷۹م کال کې د «افغانستان لرغونی پیژندنی ته یوه کتنه» کتاب کې لیکی: د کله نه چې د ځلی د پاسنی برخی خاورې او دوړې پاکی شوې، یوه مستطیله سطحه راښکاره شوه. نانسی دوپری د «افغانستان تاریخی لارښود» کتاب کې چې په ۱۹۷۷م کال کې خپور شویدی پدې برخه کې زیاته رڼا اچولې ده:

«دافغانستان د مطالعاتو انستیتوت- بریتانیا، او د افغانستان د لرغون پیژندنی انستیتوت- د گډې همکارۍ د پروژې د کار په پای کې د منار دډېرو لوړو برخو د ناپیژندلی شوې برخې یوه ساحه کشف شوه او دا برخه یو سایه وان و چې په ډېرو هیوادو کې له ډېرو بوداییی ودانیو سره شباهت او ورته والی لري.»

## د جوړیدو څرنگوالی:

د هندي پخوانیو بیلگو خلاف، کابل ته نژدې ستنې (منارونه) په یوه

ځانګړې معماري جوړې شويدي. د جوړښت مواد يې همغه مواد ؤ چې په ټول افغانستان کې پيدا کيږي او د جوړونې سيستم يې هم ډير ساده ؤ، لازمه نه وه چې په ډبرينو ستنو باندې يې دروندوالى زيات شوى واى، او د اسې جوړې شوې وې چې بايد د احتمالي فشارونو په وړاندې ولاړې واوسي. د چکړيو د منار موقعيت د باد په وړاندې د مقاومت له پلوه ځانګړى اهميت لري. د منار پورتنۍ برخه او ځلى د بدنې استوانه ډوله جوړښت د باد په وړاندې د منار مقاومت او ټينګښت زيات کړى ؤ. خو له دې سره سره د منار د تاج يا پورتنۍ برخې ټينګښت لږ و چې ويې نشواى کړاى د طبيعي پيښو (لکه باد) په وړاندې کلک ودريږي. د منار لاندينۍ برخې د دوو کره دلايلو له مخې د بدنې د نورو ځايو (برخو) په نسبت ځکه ژر خوړلې شوې وې چې د منار ددې برخې جوړښت د استوانې په بڼه نه، بلکه د مکعب په شکل جوړې شوې وې، چې باران، واورې او اوبه، به پکې ودريدې.

سړى په آسانۍ سره پوهيږي چې د ستنې د غره پلو، سوليدلي او وادي ته پرته ځانګه يې جوړه او د ستنې په وسيله ساتله کيده.

د دواړو منارو د معماري سبک د ګاونډيو سيمو د تاريخي ودانيو يا آثارو له جوړښته سره سمون خوري چې له ډير پيچلي ډبرين تخنيک څخه پکې کار اخيستل شويدى. د جوړيدو د اسبک چې د خپل پيچلي سيستم له مخې يې لري د پوهنې "Diaper" معمارۍ په نامه يې يادوي. پخوا به يې دې سبک ته بودايي ويل، ځکه چې بڼې يې په ټولو بودايي آثارو (ځليو) کې، لکه زړه ګندهارا، کابل، سوات، د منځنۍ خيتځ وادي ګانې، د سند رود، د افغانستان په جنوب ختيځه حوزه او د پاکستان په شمالي برخو کې ليدلې شويدي. د پوهنې "Diaper" معمارۍ سبک د ستنې (ستون) پوښ او دننۍ برخه راڅاپيروي چې همدغه پوښ د منار د منځنۍ (داخلي) برخې له ۵۰ - ۳۰

سانتي مترو پورې پنډوالی (ضخامت) ساتلی شي، پوښ ددرو سانتي مترو په اندازه نازکی ډبریني ایره رنګې تختې راچاپیروي چې باندینی برخې یې په پوره هنر سره تورلې او یو له بله سره په داسې هنر کلکې شوې وې وي چې نورو تعمیراتي موادو ته ډیره لږه اړتیا لیدله کیده. د داسې منارو د جګیدو ننداره به هغو کسانو ته چې له نژدې یې ورته کتل ډیره په زړه پورې وه. زه په خپله ډیر هیله من وم پوه شم چې پاسنی برخې یې څنګه جګیدې، د داسې ودانیو لپاره به بې له شکه چې ډیرو انساني طاقتونو ته ضرورت و چې ځینې یې په هواره کې او ځینې به په خوازو کې د کار لپاره دریدل. په سرخ منار (سره منار) کې د هغو خوازو سوري چې خلک پرې دریدل او کار به یې کاوه، ډیر ښه لیدل کیږي.

## انجنیري سمون:

د سیاه منار له تاج یا پاسنۍ برخې څخه پرته نور نو دانجنیري او هنري جوړښت نخښې په منارکې نه لیدل کیږي، هغه څه چې موږ به په خپل وخت کې ولیدل یوازې د هغو هډوکي و. د ښایسته زیاتي مودې په تیریدو سره، ددواړو منارو اسکلیتونه لوڅ او لغړ شوي وو او له ظاهري ښې څخه یې څه نه وو پاتې شوي. دلته دي چې د سیمې همزولي او همرنګه ځلی - چې فرهنګی ګډې اړیکی لري - له موږ سره دا مرسته کوي چې د هغو د له منځه تللیو برخو د جزئیاتو په برخه کې له مشابه او ورته ځلیو نه کافی معلومات ترلاسه کړو. یو له دغو سیمو څخه د تکسیلا زوړ ښار او بل یې د سوات وادي دي.

مینګورې ته نژدې د سوات دراده تر غاړې د ایتالوي لرغون پیژندونکې ډلې هیئت د نیم او د نیم څخه د نیم په اندازه د کابل د منار یادګاري ودانۍ

کشف کړي چې دا وړې ودانۍ د خپل جوړښت او ظاهري بڼې له مخې د کابل منارو ته نژدې والی او ورته والی لري. ددوی دا په ډیر احتیاط او هنري بڼې بیا جوړونه، د ګندهارا د ستنو د سبک - له تنی څخه تر تا دا وه پورې، ټولې اجزاوې او پورتنۍ برخی یې - هغه جزئیات راښیي چې زموږ په منار کې نشته او له منځه تللي دي.

## لرغونتوب:

د کابل ددوو منارو عمر د کوشانیانو د تاریخ پیژندنې، نسب پیژندنې له سوال پاروونکی بحث سره تړښت لري. هماغسې چې د ګندهارا هنر او د کوشانیانو تاریخ په تیرو ۱۵۰ کلونو کې د بحث وړ دی، په هماغه اندازه یې د دقیق تاریخ په هکله ګډ توافق ندی تر لاسه شوی، د آشوکا د لاټونو "Lats" بر خلاف زموږ منارې بی ثبته پاتی شوې، مانا دا چې ندي ثبت شوې او هیڅ کومه نخښه له هغو څخه نده را پاتی خو د ګاونډیو سیمو تاریخی و دانیو په دې برخه کې له موږ سره زیاته مرسته کړېده "A. cunnigham" په خپل اثر (د هند د لرغون پیژندنی سروې) چې په ۱۸۷۵ م کال کې خپور شوی، لیکی: «ښاغلی فرګوسن هم ګمان کوي چې دا ستنې "Pillars" د بودایی برجونو همزولې دي. اوزه دا نظر بیخی تاییدوم. دادی کیدای شي ددې ستنو عمر د هغو کشفیاتو له مخې چې دوکتور هونیک سرته رسولی وټاکلی شي. «لرغونې آریانا» هغه کتاب دی چې په ۱۹٤۱ کال کې خپور شوی. په هغه کې لیکلی شوي: «چاچی ها نیګ برګرته کار کاوه، هغه څو کاله رومبی له کابل څخه راغلی و. هغه ماته دوه درې دانی کوشانی سکې راوړې دا سکې هغو سکو ته ورته وې چې له برجونو څخه لاسته راغلې وې. د تراجان "Trajan" سکه هم په هغو کې

مدت نیم سده پاروپانیزاد و آراخوسیا (کندهار) و همچنان گندهارا و سند در امتداد رود سند و اکثر قسمت های پنجاب شامل آن مستعمرات یونانی گردید که توسط شاهان یونانی (که نامهای شان در سکه های زیبای نقره یی و مسی ضرب زده شده) اداره میشد. هنوز اوضاع با دورهٔ سکندر فرق داشت. فرهنگ هندی به سطح بسیار بالا انکشاف نموده و حتی ریشه- هایش تا سرزمین پاروپانیزاد گسترده میشد. یونانی ها ناگزیر آن را پذیرفته و با فرهنگ خود شان آمیختند. روی سکه های آنها در جنوب هندوکش میتوان رسم الخط زبان یونانی را به وضاحت مشاهده نمود.

در روی دیگر سکه متن خاروشتی Kharoshti و زبان پراکریت Prakrit هند شمال غربی نمایان است.از حوالی ۱۹۰ تا ۷۰ پیش از میلاد شاهان هندو یونانی به نوبهٔ خود بروادی کابل حکمروایی کردند. پنتالیون Pantaleon و برادر کوچکترش اگاتوکلیس Ag-athocles احتمالاً نخستین و هیرمایوس Hermaios دقیقاً آخرین یونانی هایی بودند که در قلمرو سکندریه وقفقاز حکومت میکردند. بزرگترین شهزاده های هندو یونانی هیوکراتی دیز Eucratides ومیناندر Menander بودند. اولی از سوی غرب آمده حکمرانان یونانی را در باختر سرنگون ساخت و خود را در حوالی سالهای ۱۷۱ پیش از میلاد پادشاه ساخت. او زمانیکه قدرتش را در باختر زمین تقویت کرد، در سال ۱۵۳ از هندوکش گذشت و با میناندر اول پادشاه یونانی، همانی که بر تخت سکندریه و قفقاز یعنی زادگاهش قرار داشت، حمله کرد. آتش جنگ خونین داخلی در گرفت. درین جنگ یونانی ها با یونانی ها تا آخر جنگیدند. ایوکراتایدز پیروز شد و سیطره اش را بر رود سند و حوالی آن گسترش داد. او

سکندریه را پایتخت خود قرار داد و ساحهٔ بسیار کوچکی را در پنجاب به میناندر واگذار شد.

درست هنگامی که ایوکراتایدز میکوشید تا یونانی های شمال و جنوب هندوکش را تحت یك حکمروایی با هم متحد سازد، انکشافات بزرگی در شمال باختر زمین رخ داد. مثلاً در شمال آمو دریا قبایل بادیه نشین بیقرار به پیش انداخته شدند. درشرق دور، حواشی غربی و شمال هان- چین نیز مردم به جنگ آغاز کردند. مغلوب شده گان جنگ با دارونداز و مواشی خویش به سوی غرب هجرت کرده و حملاتی را بالای بادیه نشینانی که برسر راه شان قرار داشتند آغاز کردند. این ماجراجویان به نامهای تــوچــاروی To-charoi (در متن یونانی) ویـــو-ژی Yue -zhi به زبان چینی یاد شده اند. بادیه نشینانی را که آنها از مناطق شان بیرون رانده و به سوی غرب متواری ساختند در چین به نام سیك Sek و درغـرب به نـام ساکای Sakai یاد شده اند.

آی خانم نام جدید شهر کهن یونانی در کناره، جنوبی رود آمو به آتش کشیده شده و در حوالی سالهای ١٤٥ پیش از میلاد از ساکنینش تهی گردید. بادیه نشینان جنگجو، این تیراندازان اسپ سوار بادپیما باید سیل آسا مناطق امتداد باختر را در حیطه، تسلط خویش درمیآوردند اما زمانیکه ایوکراتید بر امتداد هندوکش هجوم آورد، آن وقت دیگر دیر شده بود. او در نهایت خشم و درماندگی به دستان پسرش به قتل رسید و به این ترتیب حاصلات زمین های کنار راه نیز به اثر شکست های پی در پی تباه گردید. هلیوکلیس اول، کسیکه پدر خود را به قتل رسانید، تا سالهای ١٣٠ پیش از میلاد در مناطق باختر غربی اقامت داشت. سپس بلخ کهن که در آن

زمان پایتخت بود مورد هجوم بادیه نشینان قرار گرفت و هلیوکلس در جنگ به قتل رسید. زمانیکه درسال ۱۲۹ پیش از میلاد چینایی های یورشگر و پیگرد و جنرال ژانگ کیان به عزم بازدید یوژی Yue-zhi آمدند، خاموشی حکمفرما بود، زیرا هم قشون یونانی و هم سیستم اداری آنها ناپدید شده بودند. میناندر در جنوب همه قلمرو خویش را دوباره تصرف کرد. او سلطنت خود را گسترش داد و براریکهٔ شاهی تکیه زد. برای آخرین بار (ونیمه عمریك نسل) امپراطوری متحد و نسبتاً پر افتخار هند و یونانی پابرجاگشت.

این امپراطوری توسط پادشاهی که مادرش هندی بود اداره میشد. برای امپراطور زمینه چنان آماده گردید که در یك ماحول هم هندی و هم یونانی بزرگ شود. چه او به بودیزم رو آورده باشد یانه، به فلسفه بودایی چنانچه دریگانه منبع (کتاب هندی میلیند اپنها یا پرسشهای ملیندا، جاییکه شاه میناندر درسهای بودا را به شیوهٔ گفت و شنود و مطابق سبك افلاطون با نونگ نگاسینا، عالم بودایی مورد بحث قرار میدهد) نشان داده شده بخوبی آگاه بوده است. میناندر در حوالی سال ۱۳۰ پیش از میلاد در اردوگاه چشم از جهان بست. مرگ او یك مرگ نا به هنگام بود زیرا یگانه فرزندش هنوز کودکی بیش نبود. آیا مناندر در جنگی که یونانی های باختری در راه هندوکش و هنگامی که باختر در مجموع باید آزاد میشد کشته شده است؟ مانند اینکه او بودای دیگری بوده باشد خاکستر جسدش توسط مردمان شهر های متخاصم قلمرو او تقسیم شد. به گفته پلوتارك Plutarch آرامگاه او به نیایشگاه بودایی شباهت دارد.

در سال ۱۰۰ پیش از میلاد بادیه نشینان پیروزمند باختر را بین خود تقسیم کردند. قسمت شرقی آن به Yue-zhi یوژی و بخش

غربی آن به ساکای تعلق گرفت. یونانی ها کوتل های هندوکش را بستند، اما این اقدام مربوط به زمان بود و اینکه بادیه نشینان خشن چه وقت در جنوب پدیدار میشد. هند یونانی دورهٔ ماقبل میناندر مورد کشاکش دو دودمان ملك الطوایفی قرار گرفت: دودمان ایوتی دیموس که میناندر به آن وابسته بود و خاندان ایوکراتید. موضوع از آن هم فراتر رفته به قملرو های خورد تر که بوسیلهٔ شاهان فزایندهٔ کوچك اداره میشد تجزیه گردید. در سکندریه و قفقاز ژویلوس اول Zoilos I ، لیسیاس Lysias، انتیل سایداز Antialcidas، فیلکورسینوز Philoxeno، دیومیدیز Diomedes و هیرمایوس Her-maios را داریم که به نام آخرین شاهان هندو یونانی پاروپانیزاد یاد میگردیدند. بعد از مرگ هیرمایوس در حدود سال ۷۰ پیش از میلاد یوژی Yue-zhi از طریق سد هندوکش حمله نموده و به فرمانروایی یکنواخت ۱۲۰ ساله، یونانی ها در وادی کابل نقطه پایان گذاشت.

همگام با این تحول ساکای Sakai، مخالفین بادیه نشین یوژی به سمت شرقی و جنوبی باختر به جنگ پرداخته و درانگیانا، قریه یی در پای دریای هلمند که به ساکاستین (سیستان جدید) معروف شده بود، اقامت گزیدند. از همینجا قشون ساکای بالای یونانی ها در وادی سند حمله کرده و سر انجام توانستند تکسیلا را به تصرف خود در آورند. آنها برای مدت زمان کوتاه به عقب زده شدند اما در حدود سال ۵۵ پیش از میلاد ازیس اول Azes I پادشاه ساکای حاکم اکثر بخش های پنجاب گردید. تنها در گوشه شرقی این ایالت حاکمیت ناتوان یونانی تا آغاز دهه های میلادی وجود داشت.

برای یکصد سال دیگر حکمرانان نظامی یوژی Yue-zhi بر پاروپانیزاد حکومت کردند. کاخ شاهی ایشان در بلخ مرکز باختر باقیمانده است. خیلی جالب است که «هان انالس» یك منبع چینایی (اثر بان گو) نام کابل را برای اولین بار د رتاریخ تذکر میدهد. فهرست پنج شهر جدید یوژی که توسط رهبران نظامی اداره میشد با «... پنجمین مربوط است به جنرال گاو فو و مقام پایتخت حکومت در شهر گاو فو است» ختم میشود. «تمام دانشمندان با این نظر موافق اند که گاووفو همانا کابل است.» بعداً میبینیم که حکومت پیشین یونانی پاروپانیزاد تحت اداره یوژی کابلستان نامیده شده و مرکز اداری آن از سکندریه و قفقاز به شهر جدید کابل منتقل گردید.

